**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

## په یهودي زندانونو کې مسلمانې ښځې: جنایت، وحشت او د عزت او شرف پر خلکو د مرستې غږ

(ژباړه)

د بندیانو چارو اړوند سازمانونو (د توقیف شوو د چارو کمیسیون، د فلسطین د بندیانو کلب، د بندیانو د چارو کمیسیون او الضمیر، چې د بندیانو د ملاتړ او بشري حقونو ټولنه ده، د ښځو د نړیوالې ورځې په مناسبت، چې هر کال د مارچ په ۸مه لمانځل کیږي یو راپور خپور کړی، چې پکې لیکلي یې دي: «د کوچنیانو په ګډون د ښځو توقیف د پام وړ پالیسیو څخه ده چې د اکتوبر له ۷مې پېښې ورسته عملي شوې ده. د اکتوبر له ۷مې وروسته د توقیف شوو ښځو شمېر نږدې ۲۴۰ تنو ته رسېږي؛ په دې کې هغه ښځې شاملې دي چې په لویدیځه غاړه، بیت المقدس او په ۱۹۴۸م کال کې اشغال شویو سیمو څخه نیول شوې. د هغو ښځو کره احصایه نشته چې په غزه کې نیول شوې دي او ځینې یې بېرته خوشې شوې. خو اوس هم د اشغالګرو په نظامي کمپونو کې توقیف شوې ښځې شته، چې له جبري ورکېدو سره مخ دي.»

دغه سازمان زیاتوي چې «د دغه راپور تر خپرېدو پورې، د اشغالګرو په زندانونو کې د ښځینه بندیانو شمېر ٦٠ تنو ته رسېدلی دی، چې ډېری یې په دامون زندان کې دي؛ په دغو بندیانو کې دوې ماشومانې، ۲۴ میندې، ۱۲ اداري بندیانې، ۱۲ زده‌کوونکې، ۲ ټپي بندیانې او ۱۱ داسې بندیانې شاملې دي چې له ناروغیو او روغتیایي ستونزو سره مخ دي. سربېره پر دې داسې بندیانې هم شته چې د نورو بندیانو او شهیدانو مېرمنې، خویندې او میندې دي.»

راپور وایي؛ ښځې ځکه یرغمل نیول شوې چې د کورنۍ پر غړو یې فشار راوړي چې ځان تسلیم کړي. په دې کې د بندیانو او شهیدانو میرمنې او همدارنګه له اویا کلونو زیات عمر لرونکې میندې هم شاملې وې. «دغه یرغمل او توقیف شوې ښځې شکنجه شوې؛ د کورنۍ د غړو یا خاوند د وژلو ګواښ ورته شوی اوی پر دې سربېره یې د نیولو پر وخت کورونه ویجاړ شوي، ماشومان یې له رعب او وحشت سره مخ شوي او دغه راز یې پیسې او ګاڼه ضبط او غلا شوي دي.»

دغه راپورونه او شمېرې د شرم او خپګان وړ دي؛ د ۲۰۲۳م کال، د اکتوبر له ۷مې وروسته د زنداني ښځو وضعیت زړونه ریږدوي؛ د دوی پر وړاندې ظلم تر دې کچې رسېږي چې پر شکنجې سربېره یې بربنډه تالاشي کېږي او پر عزت یې برید کېږي. دا د دغه مجرم او ډارن دولت واقعیت ښیي چې هېڅ ارزښت او باور ته درناوی

نه لري. يهودي دولت د خپلو جنايتونو ترسره کولو لپاره د نارينه او ښځينه، بوډاګانو او ځوانانو تر منځ هېڅ توپير نه کوي او خپلو موخو ته د رسېدو لپاره ښځې او ماشومان يرغمل کوي.

دوی په داسې حال کې د ښځو نړيواله ورځ په درواغجنو او له فرېب څخه ډکو شعارونو لمانځي، چې په زندانونو کې او له زندانونو بهر د سپېڅلې خاورې د ښځو وضعيت ټولو ته څرګند دی. دا د غزې د ښځو حالت دی چې د ظالم جنايتکار دولت له لوري محکومې شوې؛ په عکسونو او ويډيوګانو کې يې ناوړه وضعيت ښکاره دی. په ټوله کې د سپېڅلې خاورې ښځې او په ځانګړې ډول د غزې ښځې د مايوسۍ له امله ژړا نه کوي؛ بلکې لامل يې د دوی دين او ايمان او د اسراء او معراج خاورې ته پر خپلو ژمنو ولاړ پاتې کېدل دي. که چېرې د دغو ښځو موخه د خپل دين او ديني اصولو پر وړاندې بغاوت او د ښځو د قوانينو او کنوانسيونونو لکه CEDAW او بيجينګ سره موافقت وی، نو غربي هېوادونه او د هغوی بنسټونه به مو ليدلي وی چې څنګه يې خپل غږ پورته کاوه او د دوی مرستې ته يې رادانګل. خو اوس نه يوازې دا چې د دغو جنايتونو پر وړاندې چوپه خوله دي، بلکې د دغه وحشت او ظلم له عاملينو سره مرسته او همکاري کوي. اسلامي نړۍ څه چې په ټوله نړۍ کې داسې څوک نه دي پاتې چې اوس په دغو درواغجنو شعارونو او پيروانو يې دوکه شي.

### اې تر ټولو غوره امته!

ستاسو پر عزت؛ ستاسو پر خويندو تجاوز کېږي؛ ټپي کېږي، زندانونو ته اچول کېږي، شکنجه کېږي او سپکاوی يې کېږي. دوی او ماشومان يې له لوږې سره مخ دي او په هغو خېمو کې ژوند کوي چې د سړې هوا مخه نه شي نيولی. اې مسلمانانو تاسو څه شی کوئ!؟

### اې د مډالونو او رتبو څښتنانو، اې په مسلمانو پوځونو کې د قدرت څښتنانو!

رسول الله صلی الله عليه وسلم د بني قينقاع قبيله له يوې ښځې څخه د دفاع په موخه چې د يو يهودي کس له لوري يې سپکاوی شوی و، تبعيد کړه. معتصم د يوې مسلمانې اسيرې لپاره، يو غښتلی پوځ اماده او پر يوه چټک اس د هغې غږ ته د لبيک ويلو لپاره ورغئ، چې په پايله کې يې عموريه فتح شوه. محمد بن قاسم د يوې مسلمانې ښځې غږ ته لبيک ووايه او د سند پادشاهي يې محاصره کړه، ځکه چې د مسلمانې ښځو کنښتې يې نيولې وې. قتيبه بن مسلم هغه کسان ونيول چې مسلمانې ښځې يې وېرولې وې او هغه سره او سپين زر چې د دوی له ډلې يو تن د خپل ځان د ژغورلو لپاره وړانديز کړي وو قبول نه کړل او هماغه خپل مشهوره خبره يې بيان کړه، «نه، په الله تعالی قسم؛ يوه مسلمانه ښځه به هېڅکله ستا له امله ونه وېرېږي.» بيا يې امر وکړ چې هغه ووژنئ.

نو ستاسو په اړه به الله سبحانه و تعالی څه قضاوت کوي او تاریخ به مو په اړه څه لیکي!؟ ایا تاسو به د ضعیف النفس او بې عزته کسانو په نامه ولیکل شئ او که به ستاسو په منځ کې داسې کسان هم وي چې د خپلو تېرو اتلانو او تر ټولو غوره رهبرانو پیروي کوي!؟ نو وړاندې له دې چې ناوخته شي، له الله سبحانه وتعالی څخه دخپل ځان په اړه ووېرېږئ:

**[وَإِنِ اسْتَنْصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ]** [انفال: ۷۲]

**ژباړه:** *«کله چې څوک د دین لپاره له تاسو نصرت وغواړي، نو پر تاسو فرض ده چې نصرت ورکړئ.»*

**د حزب التحریر۔ مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو برخه**

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د رمضان ۳مه**

**۲۰۲۴م کال، د مارچ ۱۳مه**

**د صدور ګڼه: ۰۲۸ / ۱۴۴۵**

**ژباړن: محمد حامد**